# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۲۷مه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۱٦مه | ٥١٤مه گڼه


## پوهنتون

۴ مخ

### رازي د لوړو زده کړو خصوصي طبي موسسه

د دې موسسې مؤسس وایي، که افغان حکومت اجازه ورکړي په څرخي پله زندان کې به د هغو بندیانو لپاره چې د بند موده یې له پنځو کلونو لوړه ده، لس ټولگي جوړ کړي او په وړیا ډول به ورته د زده کړو زمینه برابره کړي.



### سوداگرۍ وزارت: چین ته د جلغوزیو د لېږد ستونزې حل شوې دي



د سوداگرۍ او پانگونې خونې ویلي چې چین ته د جلغوزیو د لېږد ستونزې حل شوې دي.
که څه هم له افغانستانه چین ته د جلغوزیو د لېږد لړۍ بیا پیل شوې، خو ځیني افغان سوداگر وايي، هغه هېواد ته د جلغوزیو د لېږد په برخه کې د دوی ستونزې نه دي هوارې شوې او دوی له دې امله په لکونه ډالر زیان کړی دی.
د یادې خونې ویاند جان اقا نوید ویلي، چې د سوداگرۍ او پانگونې خونې او حکومتي چارواکو په کابل کې د چین له سفیر سره د جلغوزیو د صادراتو پر وړاندې شته ستونزې شریکې کړې او هغوی یې د ژر هواري ژمنه کړې ده.
نوید زیاته کړې چې د افغان سوداگرو د پیسو د رالېږدولو لپاره دوی له چینایي چارواکو غوښتي چې په افغانستان کې د چین او په چین کې د افغانستان د یو بانک څانگه پرانیستل شي.

# د سولې په برخه کې مهم پرمختگونه؛

## د هوکړې په لاسلیک پسې جوخت، بین الافغاني خبرې په جرمني کې پیلېږي



۳

### د ارگ له خوا د سولې ضد دریځونه او کړنې

۲ مخ

### شکست قشون سرخ شوروی از افغانستان

۲ مخ

### مشکلات و عوارض پر کردن دندان چیست؟

۳ مخ

### اسماعیل خان: تر سولې وروسته به موقت حکومت له سره ټاکنې کوي

پخواني جهادي مشر محمد اسماعیل خان په هرات ولایت کې له افغانستانه د پخواني شوروي اتحاد د سرو لښکرو د وتلو په یاد جوړه شوې غونډه کې پر سوله او ټاکنو خبرې کړې دي.

نوموړي ویلي، د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې هوکړې پایلو ته خوشبین دی، خو امریکا باید په دې برخه کې خپله رښتینولي ثابته کړي.

اسماعیل خان دغه راز زیاته کړې چې تر سولې وروسته به موقت حکومت سراسري ټاکنې کوي او نوی منتخب ولسمشر به کار پیلوي.

هغه ویلي: «اوس د دې وخت رارسېدلی چې افغانان نور رواني پردۍ جگړې ته نه ووایي او راشي بېرته د سولې تر چتر لاندې په یوه ټغر سره راټول شي.»

دغه پخواني جهادي مشر ویلي چې د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې تړون د افغانانو په خیر دی، خو متحده ایالتونه باید په دې برخه کې خپله رښتینولي په ډاگه کړي.

اسماعیل خان همدا راز له طالبانو غوښتي، چې د ملي پخلاینې تر چتر لاندې راټول او جنگ ته نور د پای ټکی کېږدي.

پخوانی جهادي مشر محمد اسماعیل خان داسې مهال د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې خبرو په تړاو څرگندونې کوي، چې د سولې خبرې له پرمختگونو سره مخ دي او ویل کېږي چې د روانې فبرورۍ میاشتې په وروستیو کې به د سولې تړون لاسلیک شي.

### د ناټو ترېخوالي په کموالي سره به په افغانستان کې خپل پوځي حضور کم کړو



۲ مخ

### حکمتیار: بعضی حلقات حکومتی تلاش دارند تا روند صلح را سبوتاژ کنند



گلبدین حکمتیار، رهبر حزب اسلامی می‌گوید، در حالی که گفت‌وگوهای صلح میان نماینده‌گان امریکا و طالبان به مرحلۀ مهمی رسیده‌است، اما در داخل افغانستان نه تنها اجماع سیاسی برای پیشبرد گفت‌وگوهای صلح وجود ندارد، بلکه شماری هم تلاش دارند تا روند صلح را سبوتاژ کنند.
آقای حکمتیار که دیروز در یک مراسم در کابل سخن می‌زد، از احتمال توافق میان نماینده‌گان امریکا و طالبان استقبال کرد و گفته است که خروج نیروهای امریکایی از افغانستان به سود کابل و واشنگتن است: «متأسفانه در این طرف نه تنها یک اجماع سیاسی در رابطه به صلح وجود ندارد، بلکه تلاش‌هایی برای سبوتاژ کردن پروسۀ صلح ادامه دارد.»
آقای حکمتیار، هشدار داد که اگر از فرصت‌های پیش آمده در روند صلح درست استفاده نشود، اوضاع کشور خراب‌تر خواهد شد: «ما در یک مرحلۀ حساس قرار داریم اگر به این احتمام نشود و ما مواضع خود را توحید نکنیم و از این فرصت استفاده خوب نداشته باشیم، با حوادثی روبه‌رو خواهیم شد که بعد از خروج نیروهای شوروی از افغانستان مواجه شدیم.»
همزمان با این، محمد اسماعیل خان، رهبر پیشین جهادی که دیروز در یک نشست دیگر در ولایت هرات سخن می‌زد، نیز از گفت‌وگوهای صلح ابراز خشنودی کرد، اما از امریکا خواست که در گفت‌وگوهای صلح با مردم افغانستان صادق باشد: «هر رئیس‌جمهوری که آن‌ها بر ما تحمیل بکنند و دست نشانده باشد؛ مثل این حکومت؛ یعقین داشته باشید که آن حکومت مورد قبول ما نخواهد بود.»


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملگری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

دریـــځ

## د ارگ له خوا د سولې ضد دریځونه او کړنې

د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې خبرې او د تاوتریخوالي پر کمولو خبرې وروستۍ شوې ښکاري. ځینې رسنۍ وايي چې د فبرورۍ په ۲۲مه به د تاوتریخوالي د کمولو اووه ورځنۍ مرحله پیل شي او د همدې میاشتې په ۲۹مه به د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې هوکړه لیک هم لاسلیک شي. د امریکایي چارواکو په حواله هم دا خبره شوې چې پر هر څه توافق شوی او د تاوتریخوالي د کمولو د مرحلې بریالي پای ته رسېدل به د سولې هوکړه لیک لاسلیک ته لاره هواره کړي.

ټاکل شوې چې د دې هوکړه لیک له لاسلیک وروسته به په جرمني کې رسمي بین الافغاني غونډه وشي او په دې سره به د افغانانو تر منځ د راتلونکي نظام، اساسي قانون او نورو مسایلو په اړه رسمي بحث پیل شي. په کابل کې چارواکو که څه هم د امریکا له خوا معلومات او پیغامونه تر لاسه کړي، خو دوی داسې گامونه نه اخلي چې گواکې د سولې لور ته روان دي. دوی د تاوتریخوالي د کمولو لپاره له خپله اړخه د کوم پلان او پروگرام خبره نه کوي او آن لا هم نظامي عملیات کوي. تر دې چې بیا بیا ملکي وگړي وژني. همدا وړمه ورځ یې په ننگرهار کې نهه بې گناه وگړي وژلي دي. له دې ښکاري چې دلته نه یوازې د سولې له پرمختگونو سره کومه همغږي نشته، بلکې تخریبي هڅې هم شته. د ملکي وگړو دا ډول قصدي وژل او بیا یې پر وړاندې داسې بې توپیره پاتې کېدل، یوازې د وحشت زیاتولو او د سولې فضا د خرابولو یوه هڅه ده.

د دې تر څنگ، بین الافغاني خبرو ته کم وخت پاتې دی، نو باید له دې اړخه پلاوی وټاکل شي او خلک پرې خبر کړل شي. که څه هم حکومت پخوا ویلي چې کار یې کړی، خو داسې ښکاري چې یا پلاوی ټاکل شوی نه دی او یا هم داسې پلاوی ټاکل شوی چې د لا زیات نفاق، لانجې او د سولې د خبرو د ځنډ سبب شي. د سولې دا پلاوی باید یوازې حکومتي نه وي، بلکې د سیاسي گوندونو، مدني ټولنې، ښځو او نورو اړخونو استازي هم پکې وي. لومړی خپله حکومت دوې برخې دی، چې د ډاکټر عبدالله برخه له دې پلاوي خبره نه ده. له بله اړخه سیاستوال، سیاسي گوندونه او مدني ټولنې بیا بیا وايي چې دوی له دې پلاوي خبر نه دي. اوس نو ارگ څوک، څه ډول او له چا سره په مشوره ټاکلي دي؟!

د ارگ له دریځونو او کړنو لا هم د سولې ضد دریځ بوی راځي. دا دریځ ښايي د شخصي گټو لپاره خپله د ارگ د واکمنانو وي او یا هم ښايي امریکایي یا کوم بل اړخ ورته د داسې دریځ نیولو ویل شوي وي، خو هغوی د خپلو گټو لپاره ترې استفاده وکړي. دا چې دغه دریځ پر هر اساس دی، خو د سولې ضد او د افغانستان د خلکو د هیلو او غوښتنو ضد دریځ دی. دا له ولس، سولې او ارامۍ سره ښکاره دښمني ده چې د ارگ واکمنان یې کوي. دوی باید پوه شي چې حالت حتمي بدلیږي او سوله به راځي، خو دوی به د خپلو هغو کړنو بیه حتمي پرې کوي، چې له امله یې ولس زیانمن شوی دی.

# شکست قشون سرخ شوروی از افغانستان

نویسنده: مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

سال پیش شکست اتحاد جماهیر شوروی از افغانستان رقم خورد. حکومت داکتر نجیب الله (آخرین حکومت چپی در افغانستان) تا آخرین لحظه کوشید تا از بیرون شدن نیروهای شوروی از افغانستان جلوگیری کند. سر انجام آخرین حرف به داکتر نجیب از سوی میخائیل گورباچف فرجامین رئیس جمهور شوروی گفته شد که نیروهای شوروی از افغانستان خارج می شود و نیز به وی تذکر داده شد تا ظرف یک سال خود را برای اجرای این تصمیم آماده کند.

شوروی ها دیگر نمی توانستند به جنگ در افغانستان ادامه بدهند. معاهده ژنیوا بهانه‌ی بیش نبود برای خارج شدن نیروهای شوروی از افغانستان. در پای معاهده ژنیوا وزرای خارجه کشورهای افغانستان، پاکستان، شوروی و امریکا تحت نظارت ملل متحد در ۲۵ حمل ۱۳۶۷ (۱۴ اپریل ۱۹۸۸) امضا کردند. روند خروج نیروهای شوروی در ۲۵ ثور ۱۳۶۶(۱۵ می ۱۹۸۸) از شهر جلال آباد آغاز شد. این روند را ۱۰ افسر سازمان ملل متحد نظارت می کرد. سر انجام با عبور جنرال بوریس گروموف قوماندان فرقه چهلم اردوی شوروی از پل حیرتان در ۲۶ دلو ۱۳۶۶(۱۵فبروی۱۹۸۹) رسماً اتحاد جماهیر شوروی به اشغال افغانستان پایان می دهد.

اتحاد شوروی در ٦ جدی ۱۳۵۸ (۲۷ دسامبر ۱۹۷۹) به افغانستان تجاوز کرده بود. در جریان نه سال جنگیدن با مجاهدین در افغانستان متقبل خساراتی مالی، جانی، حیثیتی و آیدیولوژیکی کم نظیری گردید و مردم افغانستان را نیز به مصیبت های بی پایانی مبتلا ساخت.

**خروج یا شکست**

تصریح میخائیل گورباچف به داکتر نجیب الله (آخرین رهبر دست نشاندهء شوروی در کابل) مبنی برینکه:«چه حکومت کابل آماده باشد و چه نباشد نیروهای شوروی از افغانستان خارج می شود» بیانگر وضعیت دشوار اتحاد شوروی در زمان خروج نیروهایش از افغانستان می باشد.

متأسفانه هنوز هم کسانی وجود دارند که خروج اتحاد شوروی از افغانستان را شکست مفتضاحانه ندانسته و آن را نوع خروج تاکتیکی می دانند که به اساس معاهده ژنیوا صورت گرفته است. درحالیکه اگر شوروی به قوانین و معاهدات بین المللی پابند می بود برخلاف تمام کنوانسیون ها و معاهدات بین المللی اولاً به یک کشور همسایه و ناتوان تجاوز نمی کرد. و پس از تجاوز دهها درخواست خروج از افغانستان را از سوی سازمان ملل متحد، سازمان کنفرانس کشورهای اسلامی و سازمان های بین المللی دیگر مبنی بر خروج عاجل از این کشور، نادیده نمی گرفت.

**عوامل شکست شوروی**

اینکه چرا شوروی در افغانستان به شکست مواجه گردید؟ در مورد حرف های زیادی وجود دارد؛ اما به باور آگاهان، سه عامل عمده از عوامل اساسی شکست شوروی در افغانستان می تواند باشد:

۱- موجودیت روحیه قوی دینی و حساسیت در برابر بیگانه‌ها در بین افغانها، از عوامل کلیدی شکست شوروی در افغانستان است. اگر صفحات تاریخ ورق زده شود، دیده می شود که افغانها در طول تاریخ با داشتن همین روحیه توانسته اند در اوقات دشوار متحد گردیده و هر متجاوزی را به شکست مواجه سازند.

۲- عامل دیگر شکست نیروهای شوروی را از افغانستان می شود به حمایت جهانی از جهاد مردم افغانستان نسبت داد. چون در زمان جهاد تمام کشورهای اسلامی و اکثریت دول غیر اسلامی در حمایت از جهاد ملت ما قرار گرفتند، که این امر سبب گردید که مجاهدان در عرصه های نظامی، مالی و سیاسی مورد حمایت جهانی قرار گیرند و از جانب دیگر اتحاد جماهیر شوروی و متحدانش در انزوا قرار گیرند.

۳- شکست و ریخت داخلی و غرور بیجای اتحاد شوروی مایهء شکست و سرافگندگی آنرا در افغانستان فراهم ساخت. لشکر سرخ بعد از پیروزی در جنگ دوم جهانی علیه المان نازی؛ خود را شکست ناپذیر تصور می کرد. به همین خاطر، بدون توجه به عواقب تجاوز به افغانستان و بدون در نظرداشت هشدارها در این مورد، کشور ما را مورد تاخت و تاز نظامی ای قرار داد که سرانجام سبب نابودی اش گردید.

**پیامدهای داخلی و بین المللی**

شوروی ها با تجاوز شان در افغانستان خنجری را در بدن کشور ما فرو کردند تا امروز هم بعد از چهل سال از زخم آن خون می چکد. هیچ عرصه و هیچ مجالی باقی نمانده است که به نحوی از حوادث تجاوز شوروی و پیامد های آن، در امان مانده باشد.

حدود دو میلیون شهید، صدها هزار بیوه و یتیم و شش میلیون مهاجر یکی از پیامدهای جدی و اساسی تجاوز اتحاد شوروی در افغانستان است. این واقعاً بهایی سنگینی است که مردم افغانستان از اثر تجاوز نیروهای اتحاد جماهیر شوروی در کشور ما پرداخته اند. علاوه بر این در حدود نیم میلیون معلول میراث دیگری از تجاوز شوروی ها در افغانستان است.

از اثر تجاوز شوروی تمام زیر ساخت های سیاسی، اجتماعی، اقتصادی و نظامی کشور ما به شکل بدی صدمه دیده و آهسته آهسته از بین رفتند و یا شدیداً متضرر گردیدند. این تجاوز، زمینه دخالت های غیر مشروع بیگانه ها را در امور داخلی کشور ما مهیا ساخت. شاید پیش از تجاوز شوروی نیز کوشش های از سوی بیگانه ها برای این امر صورت می گرفت، اما وسعت آن سعی و تلاش ها به حدی نمی رسید که سرنوشت یک ملت به بازی گرفته شود. زمانیکه ملت ما خواست تا در برابر تجاوز شوروی در افغانستان ایستاده گی کند، مجبور شد برای تقویت موقف خویش دست مساعدت خواهی را به تمام جهان دراز کند، که همین امر بخشی از اسباب مداخلات بیگانه ها را در کشور ما فراهم آورد. جنگی که اکنون در کشور ما ادامه دارد نیز نتیجه تجاوز شوروی در افغانستان است.

از پیامد منفی دیگر تجاوز شوروی در افغانستان این است که چندین نسل بی سواد باقی مانده و به این سبب از کاروان پیشرفت جامعه بشری به فاصله سالها به عقب ماندیم.

اتحاد جماهیر شوروی با تجاوز در افغانستان نه تنها نتوانست به اهدافش برسد؛ بلکه بهایی را به وزن تجزیه و پارچه پارچه شدن خود پرداخت. زیرا که اتحاد جماهیر شوروی پس از شکست در افغانستان دیری دوام نیاورده و از هم فرو پاشید. شکست شوروی تنها در عرصه عملی باقی نمانده و میدان فکری و اعتقادی را نیز در بر گرفت. بنا بر علت های گوناگونی که گفته می شود اندیشه و فکر کمونیست سازی جهان، چنان به حاشیه رفت، که دیگر هرگز این قدرت را نیافت به پا برخیزد. از لحاظ جغرافیه نیز از کشور شوراها که بیش از بیست و دو میلیون کیلومتر مربع مساحت داشت، چیزی به جز از یک مشت روایت های تاریخی باقی نماند.

با شکست شوروی در افغانستان و سپس سقوط آن، بزرگترین منفعت برای کشورهای غربی رسید که یک تهدید بزرگ از صفحهء جهان رفع شده و توانستند نفس راحت بکشند. جنگ سرد پایان یافته و جهان به نفع امریکا یک قطبی گردید. کشورهای اروپای شرقی، ققفاز و آسیانه میانه که روزگاری اقمار شوروی خوانده می شدند و در تحت اشغال سیطرهء آن قرار داشتند آزاد گردیده و به استقلال سیاسی دست یافتند.

**انجام یک امپراتوری**

پس از نه سال جهاد و مقاومت مردم افغانستان سرانجام شوروی مجبور گشت تا نیروهایش را از افغانستان بیرون نماید. اتحاد جماهیر شوروی بعد از شکست از افغانستان دیری دوام نیاورد و از روی نقشهء دنیا نیز از بین رفت. کشورهای که در تحت سلطهء سیاسی و فکری شوروی قرار داشتند نیز به استقلال رسیدند.


کسانی که از شکست شوروی از افغانستان به عنوان عقب نشینی تاکتیکی و سیاست صلح جویانه گورباچف یاد می نمایند، با تاریخ جفا می نمایند. واقعیت این است که طی ۹ سال تجاوز، کمر اتحاد شوروی از نظر اقتصادی شکسته بود. استبداد سیاسی و اعتقادی هم دیگر نمی توانست از طرف ملت ها تحمل گردد. آتش جهاد مردم افغانستان با گذشت هر سال شعله ورتر می شد و مجاهدین کاملاً مصمم بودند که بزودی، قشون سرخ را به شکست تاریخی مواجه سازند. درست در چنین احوالی بود که بحث خروج نیروهای مسلح شوروی و مصالحهء ملی از طرف زعامت آن کشور مطرح گردید تا از رسوایی بیشتر در افغانستان، جلوگیری به عمل آرد.

## ستولټنبرگ: د تاوتریخوالي په کموالي سره به په افغانستان کې خپل پوځي حضور کم کړو

د ناټو سرمنشي ینس سټولټنبرگ له ولسمشر غني سره په لیدنه کې ویلي، که طالبان د تاوتریخوالي کمولو ته رښتیني اراده وښيي، ناټو چمتو ده چې په افغانستان کې خپل ځواکونه کم کړي.

د ناټو سرمنشي په جرمني کې د مونیخ کنفرانس په څنډه کې دغه راز ویلي چې سازمان یې چمتو دی، څو په افغانستان کې د خپلو مېشتو ۱٦زرو سرتېرو شمېر را کم کړي.

دا په داسې حال کې ده چې ناټو له ۲۰۱۵ ز کال راهیسې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو (پرېکنده ماموریت) چې د غړو په گډون یې د ۳۹ هېوادونو سرتېري دي، قوماندانۍ پر غاړه لري.



د ناټو پرېکنده ماموریت موخه تر ډېره د افغانستان د پوځ ملاتړ دی او اوسمهال هم د دغه پوځ د ښوونې او روزنې چارې پر مخ وړي.

په ورته وخت کې د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي په خپله ټویټرپاڼه کې لیکلي چې ولسمشر غني په مونیخ کنفرانس کې د گډون لپاره المان ته سفر کړی، هلته یې د ناټو له سرمنشي او د امریکا د بهرنیو چارو او دفاع له وزیرانو سره لیده کاته کړي دي.

د راپورونو له مخې، په دې لیدنو کې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد هم گډون درلود.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر وړمه ویلي وو چې امریکا له طالبانو سره د یوې اونۍ لپاره د تاوتریخوالي کمولو پر سر هوکړې ته رسېدلې ده.

د جرمني د مونیخ په کلني امنیتي کنفرانس کې چې د سلواغې په ۲۵مه پیل شو، د دریو ورځو لپاره پر امنیتي مسایلو بحث او خبرې کېږي او د شاوخوا ۳۵ هېوادونو مشرانو او د بهرنیو چارو نږدې ۱۰۰ وزیرانو پکې گډون کړی دی.

که څه هم افغان ولسمشر په دغه کنفرانس کې گډون کړی، خو سږ کال افغانستان د دغه امنیتي کنفرانس محور کې نه و.

# د سولې په برخه کې مهم پرمختگونه؛

## د هوکړې په لاسلیک پسې جوخت، بین الافغاني خبرې په جرمني کې پیلېږي



د سولې په برخه کې له وروستیو پرمختگونو سره د جگړې د پای ته رسېدو لپاره هیلې هم ډېرې شوې دي. تازه ټاکل شوې چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت یو مهم چارواکی به له طالبانو سره دغه هوکړه لاسلیک کړي.
د سولې خبرو ته نږدې او باخبره سرچینې وايي چې ښايي د سولې دغه هوکړه د امریکا د بهرنیو چارو وزیر یا د هغه کوم مرستیال لاسلیک کړي او ورسره جوخت به بین الافغاني خبرې هم پیلېږي. د دغو خبرو کوربه‌توب جرمني کوي او ویل کېږي چې په دې برخه کې تیاری روان دی.
وروسته له هغه چې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړی استازی له کابل دوحې ته لاړ، نو د سولې په برخه کې د مهمو پرمختگونو راپورونه هم خپاره شول. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو له ولسمشر غني او اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله سره خبرې وکړې او دوی ته یې د تازه پرمختگونو په اړه معلومات ورکړل. ولسمشر غني هم د دغو پرمختگونو هرکلی وکړ او په خبره یې، د سولې په برخه کې هر مثبت گام ورته د منلو وړ دی.
اوس تازه طالبانو ته نږدې سرچینې وايي، چې د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې هوکړه ښايي د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د مرستیالې له لوري لاسلیک شي. په دوحه کې د سولې مذاکراتو له بهیره باخبره کسان وايي، چې په اغلب گومان دغه توافق د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مسوولان لاسلیک کوي. طالبانو ته نږدې کسان وايي چې د امریکا او طالبانو تر منځ ټول مسایل حل شوي او له توافق وروسته به بین الافغاني مذاکرات، چې د جرمني له خوا ترتیبات ورته نیول شوي، پیل شي.
د سولې خبرو ته نږدې سرچینې وايي چې هر څه نهايي شوي دي او د لاسلیک په اړه یې هم بحثونه شوي چې د چا له لوري به لاسلیک کېږي. ازاد خبریال سمیع الله یوسفزی وايي: «پر دې هم بحث شوی چې د سولې هوکړه ښايي د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د مرستیالې له لوري لاسلیک شي. ټرمپ به دغه مهال د هند پر سفر بوخت وي او د دې پر امکان هم خبرې کېږي چې که امکان یې وي چې ټرمپ پخپله دغه قرارداد امضا کړي.»
طالبانو ته نږدې سرچینې دغه راز وايي، طالبانو او امریکا پر دې هم توافق کړی چې یوه اونۍ به تاوتریخوالی کمېږي او که طالبان دغه مسئلې ته خپله ژمنتیا ثابته کړي، نو په همدې موده کې به د سولې هوکړه هم لاسلیک کېږي. د سولې له خبرو باخبره کس عنایت الله کاکړ وايي: «که ثابته شي چې په لویو ښارونو کې بریدونه نه دي شوي، پر لویو لارو واړه او لوی بریدونه نه دي شوي، نو تر هغه وروسته به د تړون د لاسلیک کېدو مرحله راځي. د تړون له لاسلیک سره به هممهاله د بهرنیو ځواکونو د وتلو لومړنۍ چارې پیلېږي.»
سرچینې دغه راز وايي چې د دغه هوکړې تر لاسلیک وروسته به جوخت بهرني ځواکونه له افغانستانه وځي او په لسو ورځو کې به بین الافغاني خبرې پیلېږي. د سولې له خبرو باخبره کس او پخوانی طالب چارواکی سید اکبر اغا وايي، دا هوکړه چې لاسلیک شي، د افغانانو تر منځ د تاوتریخوالي پر کمېدو خبرې کېږي. د ده په خبره: «کله چې دغه هوکړه لاسلیک شي، بیا د افغانانو تر منځ خبرې پیلېږي. په دغو خبرو کې د جگړې پر پای او اوربند بحثونه کېږي.»
بلخوا په کور د ننه بیا افغان سیاسیون وايي چې د سولې بین الافغاني خبرو ته باید یو وړ، ټولمنلی او ربښتینی ټیم وگومارل شي. افغان سیاسیون پر دې باور دي چې یو پیاوړی ټیم کولی شي افغانستان ته سوله راولي، خو د حکومت په خوښه فرمایشي، کمزوری او بې صلاحیته ټیم به د سولې خبرې ناکامې کړي. دوی پر حکومت غږ کړی چې افغانانو ته اجازه ورکړي څو د سولې د بین الافغاني خبرو لپاره یو ربښتینی او د خپلې خوښې ټیم تیار کړي.


## لاریونوال: د ننگرهار په سره رود کې پر ملکیانو د هوايي برید عاملین دې ژر تر ژره مجازات شي



د ننگرهار په سره رود ولسوالۍ کې د دولت پلوه ځواکونو په هوايي برید کې د یوه ماشوم په گډون، د اتو ملکي وگړو وژل کېدو په غبرگون کې د سیمې خلکو اعتراض کړی و او له حکومته یې غوښتي چې ژر تر ژره دې د دغې پېښې جدي څېړنه وشي او عاملینو ته دې جزا ورکړل شي.
دوی چې د اعتراض په توگه یې د ځینو وژل شوو کسانو جسدونه د سره رود ولسوالۍ تر مقامه راوړي وو، نیوکه یې کوله چې حکومتي ځواکونه تل ړندې بمبارۍ کوي چې تر ډېره پکې ملکي خلکو ته مرگ ژوبله اوړي.
دا په داسې حال کې ده چې ورم مازدیگر شاوخوا څلور بجې د سره رود ولسوالۍ اړوند د ککړک سیمې په یوه خوړ کې د ملکي خلکو پر یوه ټیوټا موټر هوايي برید شوی، چې پکې د یو ماشوم په گډون ۸ ملکیان وژل شوي دي.
حاجي سیداجان چې په دې پېښه کې یې درې زامن وژل شوي، ویلي، له کوره یې یوه غوا غلا شوې وه او تازه د همدې موضوع په اړه د خوږیانو ولسوالۍ ته عارض شوی و چې زامن یې هم هماالته ورغلي وو.
ده زیاته کړې چې کله یې اولادونه بېرته خپل کلي ته راستنېدل، نو په لاره کې پرې الوتکو بمبار کړی او د ده د دریو زامنو په گډون پکې ۸ کسان وژل شوي دي.
د وژل شوو کسانو د تره زوی مومن خان ملاخېل ویلي چې په دغو کسانو کې د یوې کورنۍ درې غړي یې د تره زامن دي. نوموړي ویلي، دوی له هېڅ وسله والې ډلې سره تړاو نه درلود، بلکې د حکومت او سولې پلویان وو.
د هغه په خبره: «د ولایت مقام نه پوښتنه کوو چې دوی څه گناه کړې وه، که داسې وي چې چا پورې تړلي وو، نو دغه یو زوی یې اردو کې درې کاله وظیفه اجرا کړې وه، درې زامن یې وو، درې واړه ووژل شول، کورنۍ یې بې سرپرسته شوه.»
د سیمې یو بل قومي مشر ابراهیم بیا ویلي، یاد کسان په برید کې لومړی ټپیان وو، خو کله چې ټپي کسانو خپلوانو ته د مرستې لپاره زنگ وهلی، الوتکې بیا راغلې، ځواکونه ور کښته شوي او هماالته یې یو یو وژلی دی.
په ورته وخت کې د ننگرهار د والي ویاند عطاءالله خوږیاڼي هم یاده پېښه تایید کړې او ټینگار یې کړی چې د پېښې په تړاو څېړنې پیل شوې دي.

## بالکان روټ: د افغانستان ۷۵ سلنه تریاک په پاکستان کې پر هیرویینو تر بدلېدو وروسته قاچاقېږي

د کوکنارو د کښت او د تریاکو او هیرویینو د جوړولو په اړه د بالکان روټ نړیوالې موسسې (Balkan Route) څېړنې ښيي، چې پاکستان د افغانستان د تریاکو اصلي سوداگر دی.
په دغه راپور کې راغلي چې د افغانستان تریاک ۷۵ سلنه پاکستان ته قاچاقېږي، هلته هیرویین ترې جوړېږي او بیا دغه تولید شوي هیرویین د اروپا او عربي هېوادونو بازارونو ته قاچاقېږي.
د دې موسسې د راپور له مخې، د جنوبي اسیا په هېوادونو کې د پاکستان قبایلي سیمې د هیرویینو د جوړولو په مرکز اوښتې او له دې سیمو نړیوالو بازارونو ته استول کېږي.
په ورته وخت کې د کورنیو چارو وزارت د سروې او تحلیل رییس نجیب‌الله احمدي ازادي راډیو ته ویلي، د بالکان روټ دا راپور ښيي چې د نشه‌يي موادو زیان افغانستان ته اوښتی، خو گټه یې نورو هېوادونو ته رسېږي.
هغه زیاته کړې: «په مجموع کې کیمیاوي نشه‌يي موادو د سیمې په ځینو هېوادونو کې د افغانستان د تریاکو ځای نیولی دی. دغه ډول د بالکان روټ موسسې د راپور پر اساس، ۷۵ سلنه هیرویین د پاکستان په قبایلي سیمو کې تولیدېږي. د دغو هیرویینو د تولید لپاره کارېدونکی اسیډ هایډرېډ (Acid Hydride) هم له بهره راځي. بالکان روټ په رسمي ډول دا راپور خپور کړی چې د افغانستان لپاره یو ښه زېری دی. دا راپور ښيي چې موږ د نشه‌يي موادو قربانیان یو او د سیمې هېوادونه هم په دې ستونزه اخته شوي دي.»



د بالکان روټ موسسې څېړنې ښيي چې پاکستان او ایران په ۲۰۱۹ ز کال کې په خپله خاوره کې د هیرویینو هېڅ کارخونه نه ده ویجاړه کړې، د دې تر څنگ، د پاکستان د بلوچستان له لارې خلیجي هېوادونو او بیا له هغه ځایه اروپا ته د هیرویینو قاچاق ډېر شوی دی.
دا په داسې حال کې ده چې سپینې ماڼۍ هم په افغانستان کې د نشه‌يي موادو د وضعیت په اړه تازه راپور خپور کړی دی.
د سپینې ماڼۍ په راپور کې راغلي چې په افغانستان کې د کوکنارو کښت لږ شوی، خو د تریاکو تولید ډېر شوی دی.
بلخوا د ولسي جرگې غړي وايي، چې د نشه‌يي موادو له کبله په نړیوالو کچه د افغانستان نوم بد دی، خو گټې یې بیا گاونډیو او سیمه ییزو هېوادونو ته رسېږي. د دې جرگې غړي غلام فاروغ مجروح ویلي: «د کوکنارو د کښت له امله ناحقه د افغانستان نوم بد دی، حال دا چې د افغانستان له تریاکو څخه گاونډي هېوادونه هیرویین جوړوي او بیا یې نړیوالو بازارونو ته قاچاق کوي.»

## چینايي چارواکي: په دغه هېواد کې خپور شوی کرونا ویروس په ټولیزه توگه کنټرول شوی



چینايي چارواکو ویلي، په دغه هېواد کې خپور شوی کرونا ویروس په ټولیزه توگه کنټرول شوی دی.
د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر وانگ یې ویلي، له هوبې ولایته بهر پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر له ۱۲ ورځو راهیسې په پرله پسې ډول کم شوی دی.
په ورته وخت کې د روغتیا نړیوال سازمان هم ویلي چې له چین څخه بهر پر دغه ویروس د اخته کسانو شمېر ډېر نه دی تر سترگو شوی او داسې ښکاري چې د دغه ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره وروستۍ هڅې اغېزمنې وې.
د چین د بهرنیو چارو وریز دغه راز زیاته کړې چې له دې ناروغۍ د رغېدلو کسانو شمېر هم د پام وړ لوړ شوی دی. چینايي چارواکو منلې چې په دې وروستیو کې تر ۲۵۰۰ نور کسان هم پر دغه ویروس اخته شوي چې له کبله یې د مړو شویو شمېر ۱۵۰۰ ته رسېدلی دی.
د یاد هېواد د چارواکو په خبره، تر دې دمه په ټول چین کې څه باندې ۶۳ زره کسان پر دغه ویروس اخته شوي دي. بلخوا د روغتیا نړیوال سازمان ویلي، په چین کې یې د دغه ویروس د خپرېدو په اړه خپلې څېړنې پیل کړې دي.
د راپورونو له مخې، د دغه سازمان کارپوهان او څېړوونکي له امریکايي متخصصانو سره په گډه چین ته تللي چې د دغه ویروس د خپراوي پر څرنگوالي څېړنې وکړي.
په همدې حال کې چین امر کړی چې د دغه هېواد پلازمېنې بیجېنگ ته ورتلونکي کسان به لومړی ۱۴ ورځې قرنطین کېږي او له دې پرېکړې سرغړوونکو ته یې د سزا گواښ کړی دی. د چین دولت د کرونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي په پار دغه اقدامات وروسته له هغه کوي چې د ځینو راپورونو له مخې، تر اوسه یاد ویروس هلته نږدې ۱۴۰۰ کسان وژلي دي.
په ورته وخت کې پر چین سربېره، یاد ویروس د نړۍ نږدې دېرشو نورو هېوادونو ته هم غځېدلی، خو په دغو هېوادونو کې یې د مړینې پېښې ډېرې کمې دي.
د یادونې ده چې کرونا یا کووېډ- ۱۹ ویروس لومړی ځل د چین پلازمېنې تر څنگ، د دغه هېواد د هوبې ولایت له ووهان ښاره خپور شو او په ډېرې چټکۍ سره زرگونه انسانان پرې اخته شول.

## د کتـــاب خبـرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### هغه پنځه عوامل چې زرین قانون تتوي




**۱. فشار**

د امریکا په زیاترو ادارو کې چې نن سبا اخلاقي نقضونه سر راپورته کوي، لامل یې په حسابونو کې د لوړپوړو مدیرانو درغلي ده. دوی په حسابونو کې په دې خاطر ګوتې وهي چې اداره له خپل اصلي حالته ډېره بریالۍ وښیي. دا کیسه په اېنرون شرکت کې هم شوې وه. سنتیا هارکنېس په اېنرون کې وکیله وه، نوموړې ویلي چې د حسابدارۍ د برخې عمومي رییس انډریو فاسټو، دې ته سمدستي د راتلونکي عاید د ثبتولو خبره کړې وه. دې ورته ویلي وو:((انډي! خو ما ته داسې ښکاري لکه تاسو چې ترون د لسو کلو کوئ او ګټه ټوله په یوه کال کې زېښئ، تاسو که بیا په څلورم، پنځم، شپږم او حتی لسم کال کې ګټه کوئ، نو همداسې نورې سوداګانې به کوئ... . که بازار بدل شي بیا به څنګه کوئ؟ نورې سوداګانۍ به ثبتوئ؟))

هغه ورته ویلي وو:(( هو! او ته باید هره کال داسې سوداګانې وکړې.)) (۲) هره سودا به پر حسابونو دا فشار راوړي چې نورې سوداګانې هم وکړي. خو دا به په یو ځای کې ختمېده او اخر ختم هم شو: اېنرون شرکت مات شو.

د پیم سټېټ د سوداګرۍ د مدیریت پوهنتون د سازماني چلن پروفیسره لینډا ټریوینو ویلي:((اخلاقي تشې زیاتره وخت د اداري کلتور یا د مدیریت د فشار پایله وي، کله چې یو شرکت په مالي اټکلونو او تمو کې خپله بقا نهویني، نو هڅه کوي چې پر اصولو سترګې پټې کړي او خپلو موخو ته ورسېږي، یاد فشار له همدې امله رامنځته کېږي.)) (۳)

زموږ کلتور ډېر ګړندی شوی دی او زه فکر کوم چې پر هر چا یو ډول فشار شته. د دې فشار له امله بیا خلک ټګۍ او د حقیقت بدلولو ته زړه ښه کوي. پر کاروباري مشرانو دا فشار وي چې په بازار کې د خپل شرکت ارزښت لوړ کړي. پر پلورونکو دا فشار وي چې پلور ډېر کړي. پر زده کوونکو دا فشار وي چې لوړې نومرې واخلي. هېڅ څوک له فشاره خلاص نه دي؛ خو پوښتنه دا ده چې انسان به څنګه ګوزاره ورسره کوي؟

له فشار سره چې څنګه مخ شوئ، نو پام وکړئ چې څنګه پر خپلو ارزښتونو سودا ته زړه ښه کولای شئ او له ځانه ځینې سختې پوښتنې وکړئ:

- **زه خو به ډېره احساساتي پرېکړه نه کوم؟**

فشار پر انسان رواني فشار راوړي او دا رواني فشار په ځیو احساساتي شېبو کې رامنځته کېدای شي. ځینې خلک په دې حالت کې له سختیو سره مخ کېږي، کمزورې پرېکړې کوي او دا پرېکړې بیا پر دوی او نورو اغېز کوي، زه څنګه ځان ترې ساتلی شم؟

- **زه خو به حقیقت نه بدلوم؟**

ځینو خلکو ته د تېروتنو منل بیخي ناشوني وي. که زما خوښ نه وي، بیا هم د حقیقت پلوي کولای او کلک پرې درېدلای شم؟

- **زه خو به پر لنډو لارو نه ځم؟**

چا ویلي چې د دوو ټکو ترمنځ تر ټولو اوږد واټن لنډه لار ده. دا خبره به ښایي رښتیا وي، بله لاره چې نه وي او فشار راباندې راشي، نو موږ لنډې لارې لټوو. ایا زه د دې لپاره مبارزه کوم چې سم کار وکړم؟

- **ایا زه پر خپلې ژبې او ژمنې ولاړ یم؟**

مولیر ویلي:((خلک په ژمنو کې یو شان دي، یوازې عملونه یې توپیر لري.)) که حالت سخت وي او حتی زما په زیان هم وي، زه بیا هم خپله کړې ژمنه پوره کوم او پر خپله کړې خبره ولاړ یم؟

- **زه د نور نظریاتو ته تن ږدم؟**

ځینې خلک د نورو له خبرو او نظریاتو ډېر زر اغېزمنېږي. زه هم د خپل کاري شخصیت د پیل په لومړیو پنځو کلو کې همداسې وم. که زما کار یا خبره ډېره مشهوره او عامه نه وي، بیا به هم هغه کار یا خبره کوم چې ښه راته ښکاري؟

- **زه داسې ژمنې کوم چې بیا یې پوره کولای نه شم؟**

جونسن ویلي:((موږ باید هغه تمې لوړې نه کړو چې پوره کول مو یې په وس کې نه وي. دا ښه ده چې لوګی د لمبو په منځ کې وي، نه دا چې لمبې د لوګي په منځ کې وي.)) زه خپلې ژمنې څنګه له لوګي کېدو ساتلی شم؟


**خلک په ژمنو کې یو شان دي، یوازې عملونه یې توپیر لري - مولیر**

زما لپاره د فشار پر وخت د سمو پرېکړو ښه لاره، دا رایادول دي چې زه څه شي ته ژمن یم. لومړی د خدای پر وړاندې مسئول یم، بیا د کورنۍ پر وړاندې. زه ټول هغه شیان رایادوم چې تر ما را تاو دي. له ما سره په دفتر کې د خپلې مېرمنې(مارګریټ)، بچو او لمسیانو عکسونه دي، نو زه هغه خلک نه هېروم چې پر ما د سمو کارونو کولو باور لري. زما د بریالیتوب یو تعریف زما د هغو نږدې خلکو لپاره دی چې مینه راسره وکړي او درناوی مې وکړي.

یادونه ارزښتمن دي؛ خو کافي نه دي. زه د ځان منظم ساتلو لپاره ځینې سیستمونه هم لرم، مثلاً که پر ما فشار وي او پرېکړه باید وکړم، نو په داسې حالت کې ستونزه او د هغې حللارې ټول پر یوه پاڼه لیکم چې احساساتي چلن رانه ونه شي. زه خپلې کړې ژمنې لیکم چې رانه هېرې نه شي. زه خپلې سکرترې لینډا ته هم وایم چې زما پرېکړې او ژمنې تعقیب کړي، په دې خاطر چې هېرې او رانه پاتې نه شي. زه تاسو ته هم د ورته کار وړاندیز کوم. هر هغه څه وکړئ چې تاسو د فشار پر وخت په استقامت کې ساتلی شي. **دوام لري...**

# رازي د لوړو زده کړو خصوصي طبي موسسه

حمیدالله حمیدي



پوره یوولس کاله وړاندې رازي د لوړو زده کړو موسسې د یوه انستېټیوت په چوکاټ کې د طبي علومو د زده کړې په برخه کې فعالیت پیل کړ. له نن څخه شپږ کاله مخکې د رازي صحي علومو انستېټیوت ادارې په همدې برخه کې د لوړو زده کړو د یوې موسسې د ایجاد هڅه وکړه. په لوړو زده کړو وزارت کې یې تر ثبت او راجستر وروسته، رسماً د رازي د لوړو زده کړو طبي موسسې په نوم پر فعالیت پیل وکړ. د رازي طبي موسسې مؤسس ښاغلی سید امان الله امین وایي، چې د نیمه لوړو زده کړو په برخه کې رازي انستېټیوت اوس هم فعالیت کوي، چې عالي نرسنګ، قابلګۍ، د غاښونو پروتېز، طبي تکنالوژۍ، فارمسۍ، انستېزۍ، فزیوتراپۍ او راډیولوژۍ په برخه کې ډېر محصلین پر نیمه لوړو زده کړو بوخت دي. دی وایي، رازي د لوړو زده کړو طبي موسسه بیا تر اوسه پورې دوه پوهنځي (عالي قابلګي او عالي تکنالوژي) لري چې محصلین پکې د لېسانس په کچه لوړې زده کړې کوي.

د رازي د لوړو زده کړو طبي موسسې مؤسس ښاغلی سید امان الله امین وایي، چې تر ۴ زره ډېر محصلین ور سره پر زده کړو بوخت دي. دی وایي، دا چې په افغانستان کې د ښځینه ډاکټرانو په تېره بیا د قابله ګانو شمېر ډېر کم او اړتیا ورته زیاته ده، نو د محصلینو ٦٨ سلنه یې ښځینه محصلینې دي. دی وایي، په موسسه کې د هېواد له ټولو ولایتونو او ولسوالیو محصلین لري او هغه چې فارغ شوي، په خپل ولایت او ولسوالۍ کې د خپلې سیمې او خلکو خدمت ته تللي او په اړونده برخه کې پر کار بوخت دي. د نوموړي په خبره، تر اوسه پورې د ماسټرۍ پروګرام نه لري، خو په دې برخه کې یې هڅې پیل کړې دي، لوړو زده کړو وزارت ته یې غوښتنلیکونه سپارلي، همدا چې ولسمشر په خصوصي پوهنتونونو کې د نویو پوهنځیو د تاسیس او ماسټرۍ پروګرام د پیل خبر ورکړي، دوی به هم په یادو دوو پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروګرام پیل کړي.

له رازي د لوړو زده کړو طبي موسسې څخه تر اوسه پورې درې دورې محصلین فارغ شوي دي. ښاغلی سید امان الله امین وایي، په هره دوره کې یې له ٦٠٠ ډېر کسان د لېسانس په کچه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. نوموړی وایي، سږ کال به د ۱۵۰۰ په شاوخوا کې نوي محصلین جذب کړي، چې په دې ډله کې به ۳۰۰ د شهیدانو او معلولینو ورثه، د افغان امنیتي ځواکونو د کورنیو غړي او هغه کسان وي چې د اقتصادي کمزورۍ له کبله نه شي کولای لوړې زده کړې وکړي، نو دوی به دې کسانو ته په وړیا ډول د لوړو زده کړو زمینه برابره کړي. نوموړی وایي چې رازي د لوړو زده کړو طبي موسسه د خصوصي پوهنتونونو په برخه کې په تر ټولو ټیټ قیمت؛ خو په لوړ کیفیت محصلین روزي. دی وایي چې دوی په یوه سمیسټر اووه زره افغانۍ اخلي، خو هغه محصلین چې اقتصادي وضعیت یې ښه نه وي، ځانګړی تخفیف ورکوي او د سمیسټر پر سر ترې یوازې پنځه زره افغانۍ اخلي. مانا دا چې دېرش سلنه تخفیف ورکوي.

په رازي د لوړو زده کړو موسسه کې په ځانګړې توګه قابلګي پوهنځي کې د تدریس چارې د ۷۸ استادانو له خوا مخ ته وړل کېږي. ښاغلی امین وایي، په دې ډله استادانو کې ۹ یې د دوکتورا، ۳۲ یې د ماسټرۍ او پاتې نور یې بیا د لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. امین وایي چې هڅه یې کړې ده څو پر کارپوه، متخصص او د تدریس په برخه کې تجربه لرونکي استادان پر دندو وګوماري، چې وکولای شي مسلکي کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي. نوموړی وایي، هغه کسان چې تر اوسه دوی فارغ کړي دي، ډېری یې په دولتي او غیر دوتلي روغتونونو کې په اړونده برخه کې پر کار بوخت دي او یا هم خپل شخصي کاروبار لري. په رازي د لوړو زده کړو طبي موسسه کې د ورځې په دریو وختونو سهار، له غرمې وروسته او له وخت وروسته زده کړې کېږي.

ښاغلی امین وایي چې موسسه یې مجهز کتابتون لري او ټول هغه کتابونه یې پکې ځای پر ځای کړي دي چې د محصلینو او استادانو اړتیا ورته لیدل کېږي. دی وایي، د سهار له شپږو بجو د ماښام تر شپږو بجو د دوی ځانګړي کار کوونکي په کتابتون کې وي، محصلین ورځي او کولای شي چې د خپلې اړتیا وړ کتابونه له کتابتون څخه واخلي او یا هم خپله په کتابتون کې مطالعه وکړي. سید امان الله امین وایي، چې په کور د ننه له ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونو سره ښې اړیکې لري او له ځینو طبي پوهنتونونو سره د علمي اړیکو هوکړې هم لري، د هغوی له تجربو ګټه اخلي او خپلې تجربې او ستونزې هم ور سره شریکوي. نوموړی وایي چې یو پلاوی یې ترکیې او ایران ته هم استولی او په راتلونکو څو ورځو کې به هلته له ځینې طبي پوهنتونونو سره د علمي اړیکو هوکړې لاسلیک کړي، چې له مخې به یې محصلین د لا نورو لوړو زده کړو لپاره دغو پوهنتونونو ته ور استوي او تر څنګ به یې په نورو اړوند برخو کې د هغوی له امکاناتو او تجربو ګټه اخلي.

رازي د لوړو زده کړو موسسې هم د ځینو نورو خصوصي پوهنتونونو یا د لوړو زده کړو موسسو په څېر تر اوسه پورې خپلو فارغ شویو محصلینو ته ډیپلومونه نه دي وېشلي، خو ښاغلی امین وایي چې تر فراغت او مونوګراف تر دفاع کولو وروسته، محصلینو ته هغه د فراغت سند ورکوي چې خپله د موسسې اداره، د کابل طبي پوهنتون رییس یې لاسلیکوي او په لوړو زده کړو وزارت کې تر تاییدۍ وروسته محصل ته ور کول کېږي. دی وایي، تر اوسه یې محصلینو ته رسمي ډیپلومونه نه دي ورکړي، خو کله چې د دوی د موسسې وار ورسېږي، رسمي ډیپلومونه به هم ورکړي. نوموړی وایي چې محصلین یې کولای شي له اوسنیو تحصلي اسنادونو څخه د خپل کاروبار، دندې اخیستو او یا هم د نورو لوړو زده کړو په برخه کې ګټه واخلي.

رازي د لوړو زده کړو موسسه د نظري زده کړو تر څنګ، محصلینو ته د عملي زده کړو زمینه هم برابروي. د دې موسسې مؤسس وایي، وخت ناوخت محصلینو ته د عملي زده کړو ورکشاپونه، کورسونه، د کمپیوټر او انګلسي زده کړې کورسونه او دې ته ورته نور امکانات په پام کې نیسي. ښاغلی امین وایي، دوی هڅه کوي څو داسې محصلین ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي چې له فراغت وروسته عملي کاري ساحې ته ولاړ شي او په خبره یې، ان ځینې محصلین یې د سره صلیب کمېټې په روغتیایي برخه کې پر دندو ګومارل شوي دي.

له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول، د ماسټرۍ پروګرام پیلول، د ستوماتولوژۍ، فارمسۍ او معالجوي طب پوهنځیو ایجادول، نورو ولایتونو لکه کندهار، خوست او پکتیا کې د څانګو پرانیستل د رازي د لوړو زده کړو موسسې له راتلونکو پلانونو څخه دي. دی وایي، دا چې اوس لوړو زده کړو وزارت د ولسمشر په امر په خصوصي پوهنتونونو کې د نویو اقداماتو مخه نیولې ده، نو نه شي کولی نوي پوهنځي تاسیس کړي او یا هم نوې څانګې پرانیزي. د دې تر څنګ، ښاغلی امین وایي، که افغان حکومت اجازه ورکړي په څرخي پله زندان کې به د هغو بندیانو لپاره چې د بند موده یې له پنځو کلونو لوړه ده، لس ټولګي جوړ کړي او په وړیا ډول به ورته د زده کړو زمینه برابره کړي.

د رازي د لوړو زده کړو موسسې اداره اوسمهال له کومې ځانګړې ستونزې سر نه ټکوي. دوی وایي چې ټول فعالیتونه یې د لوړو دزه کړو د قانون او مقرراتو په رڼا کې دي. دوی د لوړو زده کړو وزارت وروستي اقدامات او د کیفیت د تضمین پروګرام ستایي او د دغه څار د دوام غوښتنه کوي. ښاغلی امین وایي چې یوازینۍ ستونزه یې د امنیت په برخه کې ده چې له نیکه مرغه اوس په کابل کې د خصوصي پوهنتونونو د امنیت د ټینګښت په موخه هم ګامونه پورته شوي دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۵ |
| € | ۸٤ |
| Rp. | ٤۹۵ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۹,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

روغتیا

# مشکلات و عوارض پر کردن دندان چیست؟

ترجمه: ندیم سنایی

یکی از روش‌های حفظ دندان پوسیده، پر کردن بخش‌های پوسیده و ترمیم دندان است؛ اما پر کردن دندان هم گاهی اوقات عوارضی به‌دنبال دارد. در این مقاله عوارض پر کردن دندان را بررسی می کنیم.

**حساس‌شدن دندان‌ها**

حساس‌شدن دندان پس از پر شدن معمولاً رایج است. چنین دندانی ممکن است به فشار، هوا، خوراکی‌های شیرین یا دما حساس شود. این حساسیت پس از چند هفته خودبه‌خود برطرف می‌شود. در این مدت، از موارد حساسیت‌زا برای دندان پرهیز کنید؛ در ضمن، درد دندان‌های حساس آن‌قدر زیاد نیست که مجبور به مصرف مسکن شوید؛ اما اگر حساسیت دندان پرشده‌تان، پس از ۲ تا ۴ هفته برطرف نشد یا دندان تان بیش از حد حساس بود، با داکتر دندان تان تماس بگیرید.

در این‌گونه مواقع، داکتر دندان به شما توصیه می کند که از خمیردندان‌های رفع حساسیت دندان‌های حساس استفاده کنید. همچنین، او ممکن است ماده‌ای روی دندان‌تان قرار دهد تا از حساسیت آن بکاهد. گاهی‌اوقات هم پوسیدگی دندان به ریشه می‌رسد و داکتر دندان تان را مجبور می‌کند مشکل دندان‌تان را با ریشه‌درمانی حل کند.

علت دردهای ناشی از پر کردن دندان به چند دلیل زیر، دندان‌های پرشده دردناک می‌شوند:

**۱. احساس درد موقع گاززدن یا قراردادن دندان‌ها روی هم**

این نوع درد معمولاً پس از برطرف‌شدن بی‌حسی دندان پر شده و موقع گاززدن به چیزی رخ می‌دهد و ممکن است مدتی ادامه پیدا کند. گاهی‌اوقات، موادی که دندان‌تان را با آن پر کرده‌اند، موجب این درد می‌شود. بنابراین، از داکتر دندان تان بخواهید وضعیت ماده پرکننده دندان‌تان را بررسی کند. شاید لازم باشد شکل و حالت پرکردگی دندان تغییر داده شود؛ اما اگر درد همچنان پابرجا بود، ممکن است مشکل از جای دیگری باشد و دندان‌تان به ریشه‌درمانی نیاز داشته باشد.

**۲. درد دندان ناشی از گرما یا سرما**

این نوع درد بسیار تیز است و وقتی دندان‌تان با چیزی سرد یا گرم تماس پیدا می‌کند، رخ می‌دهد. این درد معمولاً چند ثانیه پس از رفع گرما یا سرما برطرف می‌شود؛ اما اگر درد آن بیشتر از چند ثانیه باقی ماند و ادامه هم داشت، نشان‌دهنده صدمه به عصب دندان است. در این صورت، حتماً به داکتر دندان مراجعه کنید.

**۳. درد دائمی شبیه دندان‌درد**

اگر پوسیدگی دندان‌تان خیلی عمیق باشد و تا مغز آن رسیده باشد، دچار چنین دردی می‌شوید. مغز دندان، در واقع، رگ‌ها و اعصاب دندان است. این نوع درد نشان می‌دهد که مغز دندان دیگر سالم نیست. در این شرایط باید آن را با ریشه‌درمانی درمان کرد.

**۴. درد برگشت‌پذیر**

این درد یا حساسیتی است که علاوه بر دندان پرشده، دندان‌های دیگر را هم به خود گرفتار می‌کند. این نوع درد چندان مهم نیست و احتمالاً دندان‌هایتان مشکلی ندارند. در واقع، دندان پرشده «علائم مربوط به درد» منتشر می‌کند و دندان‌های دیگر این علائم را دریافت می‌کنند و دردناک می‌شوند. این نوع درد باید پس از ۱ یا ۲ هفته برطرف شود.



**حساسیت به آمالگام**

به‌ندرت پیش می‌آید که فردی به مواد نقره‌ای‌رنگ آمالگام (که مخصوص پر کردن دندان است) حساسیت داشته باشد. انجمن داکتر دندان‌ی آمریکا فقط با ۱۰۰ مورد از این نوع حساسیت مواجه شده است.

در این وضعیت نادر، جیوه یا یکی از مواد مورد استفاده در آمالگام موجب واکنش‌های حساسیتی می‌شود. علائم حساسیت به آمالگام، شبیه حساسیت‌های پوستی از جمله جوش و خارش پوست است. بیمارانی که به مواد آمالگام حساسیت دارند، معمولاً خودشان یا یکی از اعضای خانواده‌شان سابقه حساسیت به فلزات داشته‌اند. وقتی حساسیت به این نوع مواد در فردی تأیید شود، پر کردن دندان او با موادی از جنس دیگر انجام می‌شود.

**پرکردگی‌های قدیمی پوسیده**

فشار دائمی ناشی از جویدن و خردکردن مواد خوراکی با دندان باعث می‌شود که پرکردگی‌های دندان به‌تدریج فرسوده و خرد شوند یا ترک بردارند؛ البته شما به تنهایی نمی‌توانید وضعیت مواد پرشده دندان‌تان را بررسی کنید. داکتر دندان باید شرایط بد این مواد را در معاینه‌های منظم دندان‌هایتان تشخیص دهد.

اگر شکاف بین مینای دندان و پرکردگی‌ها از بین برود، ذرات غذا و باکتری‌های عامل پوسیدگی دندان می‌توانند به زیر مواد پرشده دندان نفوذ کنند و موجب پوسیدگی بیشتر دندان شوند. معمولاً این نوع پوسیدگی، که دور از چشم است، بدون درمان باقی می‌ماند و در نهایت، با پیشرفت آسیبی که به دندان وارد می‌شود، مغز دندان کاملاً عفونی می‌شود. این پوسیدگی‌ها حتی ممکن است دندان را گرفتار آبسه کنند.

همچنین اگر مقدار پرکردگی دندان بسیار زیاد یا پوسیدگی آن وسیع باشد، ممکن است ساختار دندان آن‌قدر نباشد که بتوان آن را با مواد پر کرد. در این‌گونه مواقع، داکتر دندان به‌جای مواد پرشده، از روکش دندان استفاده می‌کند.

اگر هم پرکردگی‌های جدید بریزند، نشان‌دهنده این است که داکتر دندان حفره موجود در دندان را پیش از گذاشتن مواد به‌خوبی آماده یا از آلودگی‌ها پاک نکرده است.

البته جویدن یا گاززدن جسم سفت هم ممکن است موجب ترک‌خوردن این مواد شود. همچنین پرکردگی‌های قدیمی‌تر به مرور براثر پوسیدگی یا ترک‌برداشتن بخش‌های باقی‌مانده دندان پرشده، از بین می‌روند.

**عوارض پر کردن دندان**

عوارض ناشی از پر کردن دندان زیاد شایع نیستند؛ اما هر فرایندی از داکتر دندان‌ی خطرات و مشکلات بالقوه‌ای با خود به همراه دارد که گاهی اوقات جدی می‌شوند. مشکلات دندان ممکن است در طول دوره درمان یا در مدت‌زمان بهبود دندان پس از درمان رخ دهند.

از عوارض بالقوه پر کردن دندان می‌توان به موارد زیر اشاره کرد:

مشکلات مربوط به داروی بی‌حسی مانند واکنش‌های حساسیتی و صدمه به عصب یا رگ‌های خونی؛

گسترش حفره اطراف پرکردگی دندان؛

**زخمی‌شدن دهان.**

ضرورت فرایندهای درمانی بیشتر، به‌ویژه اگر حفره دندان بزرگ باشد. این وضعیت زمانی رخ می‌دهد که بخش بسیاری از ساختار دندان برداشته یا عصب دندان نمایان می‌شود؛ در این حالت به روکش دندان نیاز است. اگر پوسیدگی دندان وسیع باشد، ریشه‌درمانی یا کشیدن دندان ضروری است.

**روش‌های کاهش عوارض**

با روش‌های زیر، از برخی عوارض پر کردن دندان می‌توان پیشگیری کرد:

هنگام پر کردن دندان و روزهای پس از آن، محدودیت‌هایی درمورد فعالیت‌های روزمره‌تان، رژیم غذایی و سبک زندگی‌تان قائل شوید و از توصیه‌های داکتر دندان تان پیروی کنید. این موارد شامل کارهای مربوط به سلامت دهان مانند رعایت بهداشت صحیح آن است.

اگر نوزادی را خودتان شیر می‌دهید یا احتمال دارد باردار باشید، حتماً داکتر دندان تان را آگاه کنید.

پس از انجام‌شدن کار دندان، هر نوع درد، تب و مشکلات جویدن را فوراً به داکتر دندان خبر دهید.

اگر سابقه حساسیت، به‌ویژه به فلزات دارید و احتمال دارد داکتر دندان با مواد فلزی دندان‌تان را پر کند، حتماً او را از این حساسیت مطلع کنید.

در صورت لزوم، داروهای تجویزی را دقیقاً مطابق با نظر داکتر دندان مصرف کنید.

**آمادگی پیش از پر کردن دندان‌ها**

در مراقبت از دندان‌ها، خودتان از همه مهم‌تر هستید. قبل از پر کردن دندان می‌توانید اقداماتی انجام دهید تا به عوارض پر کردن دندان مبتلا نشوید.

پیش از پر کردن دندان اقدامات زیر را انجام دهید:

به تمام پرسش‌های مربوط به سابقه خانوادگی‌تان درمورد بیماری‌ها و داروهای مصرفی پاسخ دهید. این موارد شامل مصرف داروها، درمان‌های گیاهی و حتی مصرف ویتامین‌ها می‌شود. بهتر است پیش از رفتن نزد داکتر دندان، فهرستی از این موارد و همچنین از حساسیت‌های احتمالی‌تان تهیه کنید.

اگر احتمال دارد باردار باشید، حتماً با داکتر دندان تان مطرح کنید.

**پرسش‌هایی که لازم است از داکتر دندان بپرسید**

انجام‌دادن کارهای داکتر دندان‌ی مانند پر کردن دندان گاهی استرس‌آور می‌شود؛ به همین دلیل، طبیعی است که برخی از سؤال‌های موردنظرتان را فراموش کنید بپرسید. بنابراین، بهتر است پیش از رفتن به مطب، به سؤال‌هایتان فکر کنید. حتی می‌توانید پیش از انجام‌دادن کاری روی دندان‌هایتان با داکتر دندان تماس بگیرید و پاسخ سؤال‌هایتان را جویا شوید.

از این سؤال‌ها می‌توان به موارد زیر اشاره کرد:

روند پر کردن دندان چقدر طول می کشد؟

برای پر کردن دندان از چه موادی استفاده می‌شود؟

پس از پر کردن دندان چه محدودیت‌هایی وجود دارد و چه زمانی می‌توان غذا و نوشیدنی مصرف کرد؟

در صورت نیاز، داروهای تجویزی را چگونه باید مصرف کرد؟

درد احتمالی چگونه برطرف می‌شود؟

آیا لازم است دندان پرشده بعداً معاینه شود؟

همچنین زمان‌های ممکن برای تماس با داکتر دندان را هم جویا شوید.

**وضعیت شما پس از فرایند پر کردن دندان**

پس از پر کردن دندان ممکن است دهان، لثه و زبان شما چند ساعت بی‌حس باشند. این به‌دلیل داروی بی‌حسی موضعی است و مدتی طول می‌کشد تا برطرف شود. در این مدت، ممکن است نتوانید به‌راحتی حرف بزنید، چیزی بجوید یا نوشیدنی مصرف کنید. ممکن است پس از برطرف‌شدن بی‌حسی، کمی احساس مورمورشدن دردهان داشته باشید.

البته معمولاً داکتر دندان توصیه می‌کند که قبل از برطرف‌شدن بی‌حسی، غذا نخورید؛ بدین ترتیب، به‌طور تصادفی، دهان یا زبان‌تان را گاز نمی‌گیرید و به آن صدمه نمی‌زنید.

گاهی اوقات چند روز یا یک هفته پس از پر کردن دندان، دندان‌تان حساس می‌شود و بیش از حد معمول به سرما یا گرما واکنش نشان می‌دهد. اگر این حساسیت بدتر شد یا بیش از یک هفته طول کشید، ممکن است دندان‌تان به درمان بیشتری نیاز داشته باشد.

با مشاهده هریک از مشکلات زیر، فوراً با داکتر دندان تان تماس بگیرید:

خون‌ریزی؛

مشکلات تنفسی مانند تنگی نفس یا اشکال در تنفس و خس‌خس‌کردن؛

تب؛

درد در لثه یا دندان‌ها؛

تورم.

**کلام آخر**

پر کردن دندان به حفظ دندان‌تان در برابر پوسیدگی بیشتر و احتمال عفونت کمک می‌کند؛ اما پرکردگی‌های دندان‌ها هم زمانی از بین می‌روند و لازم است جایگزین شوند؛ البته بیشتر پرکردگی‌ها سال‌ها دوام می‌آورند و نیازی به تعویض آنها نیست. برای اینکه خیال‌تان بابت دندان‌هایتان راحت باشد، باید برای معاینه به‌طور مرتب و هر ٦ ماه یک بار به داکتر دندان مراجعه کنید و از سلامت پرکردگی دندان‌تان مطمئن شوید. در ضمن، صحت دهان و دندان را هم فراموش نکنید.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کيفيت او چټک خدمات په
وايگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

يکشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۲۷مه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۱۶مه | ۵۱٤مه گڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | ۱۳ | ۱٦ | ۱۱ | ۲۳ | ۲۰ |
| -۵ | ۱ | ۲ | -۱ | ٦ | ٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۵ | لمر ختل ۰٦:۳۹ | ماسپښين ۱۲:۰۸ | مازيگر ۰۳:۱۳ | ماښام ۰۵:۳۷ | ماخوستن ۰۷:۰۲

## وزارت صحت عامه: تا اکنون هیچ واقعه مثبت ویروس کرونا در کشور ثبت نشده است

وزارت صحت عامه می گوید که در رسانه های اجتماعی خبری در رابطه به مرگ یک تعداد باشندگان بدخشان ناشی از کرونا، واقعیت ندارد و شایعه می باشد.
وزارت صحت عامه در صفحۀ اجتماعی فیسبوک خود نوشته است: «اخیراً شایعاتی در رسانه های اجتماعی در رابطه به مرگ یک تعداد از هموطنان ما در ولایت بدخشان که گویا از اثر ویروس کرونا جان های خود را از دست داده اند، دست بدست می‌شود.»
منبع در ادامه می نویسند: «وزارت صحت عامه این خبر را کاملاً رد می‌کند و خوشبختانه تا اکنون هیچ واقعه مثبت ویروس کرونا در افغانستان به ثبت نرسیده است.»
وزارت صحت عامه می گوید، یک تعدادی کسان که در بدخشان جان های شانرا از دست داده اند، دلیل مرگ آنان امراض تنفسی موسومی، عدم مراجعه به مراکز صحی و استفاده خودسرانه دواهای یونانی بوده و هیچ ربطی به ویروس کرونا ندارد.
این درحالیست که بیشتر از یک ماه از شیوع ویروس کرونا در چین می‌گذرد، اما تا کنون هیچ راهکاری جدی‌ای برای جلوگیری از شیوع بیشتر این ویروس به وجود نیامده است و با گذشت هر روز نگرانی، از شیوع این ویروس نیز گسترده‌تر می‌شود.
پس از شدت گرفتن آمار قربانیان ویروس کرونا در چین، سازمان جهانی صحت، اعلام کرده است که برای آن نام رسمی انتخاب شده است. کووید ۱۹ (COVID ۱۹) نامی رسمی ویروس کرونا است که روز سه شنبه (۲۲ دلو) از سوی سازمان جهانی صحت، بر این ویروس گذاشته شده است و اشاره‌ای به «کرونا»، «ویرس»، «بیماری» و «سال ۲۰۱۹» دارد.

نړۍ



## چينايي چارواکي: په دغه هېواد کې خپور شوی کرونا ويروس په تدريجي توگه کنټرول شوی
۳

## پامپيو: امريکا له مرکزي او ختيځې اروپا سره د انرژۍ په برخه کې يو ميليارد ډالر مرسته کوي



د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو ويلي، متحده ايالتونو د ختيځې او مرکزي اروپا د انرژۍ د ستونزې د حل په موخه، د يادو سيمو لپاره يو ميليارد ډالر ځانگړي کوي، څو پر روسيې د دغې سيمې د هېوادونو تکيه راټيټه شي.
هغه په مونيخ کنفرانس کې گډونوالو ته ويلي چې د واشنگټن دغه پيسې د (دريو بحيرو نوښت) په نوم ځانگړې کړې چې ورسره سم به يادې سيمې د انرژۍ له اړخه خپلې ستونزې له خپلو داخلي محصولاتو پوره کړي.
د يادونې ده چې په دې دريو بحيرو(توره بحيره، ادرياتيک او بالتيک) کې د اروپايي ټولنې ۱۲ غړي هېوادونه پراته دي چې له اتريش پرته يې ټول د ناټو غړيتوب هم لري.
پامپيو ويلي، هڅه کوي چې له خپلو متحدينو سره په گډه اروپا د انرژۍ په برخه کې پر خپل ځان بسياينې ته ورسوي او پر روسيې خپله تکيه راکمه کړي.
د يادونې ده چې اروپا اوسمهال د تېلو او طبيعي گازو په برخه کې تر ټولو لويه تکيه پر روسيه کوي، چې وخت ناوخت د دواړو لورو تر منځ د ناندريو له کبله مسکو پرې د فشار په توگه کار اخلي.

## ماکرون: لوېديځ د بل هر وخت په پرتله کمزوری شوی، اړينه ده چې ناټو سازمان پياوړی شي

د فرانسې ولسمشر ايمانويل ماکرون ويلي، چې لوېديځ د بل هر وخت په پرتله کمزوری شوی او اړينه ده چې د ناټو سازمان د پياوړتيا لپاره کوټلي گامونه پورته شي.
نوموړي چې تر دې وړاندې يې هم ويلي وو چې ناټو د مغزي سکتې په حال کې ده، تازه د جرمني په مونيخ کنفرانس کې دغه څرگندونې کړې دي او د ياد سازمان ځينې غړي هېوادونه يې پر ناغېړۍ تورن کړي دي.
هغه ويلي، اروپا او لوېديځ ناټو سازمان ته اړتيا لري او که دغه سازمان له منځه ځي، ورسره سم به په سيمه کې ټيکاو ته هم لوی گواښ پېښ شي.
هغه دغه راز روسيې ته په اشارې ويلي، چې دوی له چا سره تقابل ته زړه نه ښه کوي، بلکې له مسکو سره بايد روانې ستونزې د خبرو له لارې حل شي.
ماکرون زياته کړې چې روسيې په دې وروستيو کې د اروپا پولو ته نږدې پاروونکي اقدامات پيل کړي، چې په خبره يې پايلې به يې د هېچا په گټه نه وي.
نوموړي دغه راز پر اروپايي ټولنې هم غږ کړی چې په سيمه کې روان بدلونونه دې له نږدې وڅاري او د ستونزمنو حالاتو لپاره دې له وړاندې تياری ونيسي.

ژونـــــد

## رښتيا ويل سکون دربښي




«تل رښتيا وايه، ان که د ويلو پر مهال دې غږ هم ولړزېد.» ښکلې جمله ده. ډېر خلک ښې خبرې کوي، ډېری کسان بيا بې گټې او سپکې خبرې کوي، داسې بې ارزښته خبرې چې د يوې اوربشې په اندازه هم ارزښت نه لري. حقيقي رهبران بيا يوه ځانگړنه لري؛ هغوی لږ خبرې؛ خو ډېر عمل کوي. زه د خاموشه رهبرانو مينه‌وال يم، هغوی چې لږ ژمنې کوي او ډېر عمل کوي. کله چې خبرې کوي، حقيقتونه وايي. زموږ په منځ کې بريالي سوداگر هغه دي چې پر دې پوهېږي خبرې کول ياني پر خپلو خبرو عمل کول. پر ژمنو او خبرو عمل کول د انسان باور سل چنده زياتوي او دغه کار د اطمينان اصلي بنسټ دی. نو ژمنه وکړئ چې پر خپلو خبرو به تر اخري حده عمل کوی. په رښتيا ويلو سره کولای شی چې يو رهبر جوړ شی، مهمه نه ده چې په کوم نوم او عنوان. په تياتر کې دا معقوله ده چې وايي: «هېڅ رول کوچنی نه دی.» په ياد ولرئ؛ هېڅوک کوچني نه دي.

## د خوب گولۍ مو پر ناوړه ناروغيو اخته کوي



روغتيايي کارپوهان او څېړونکي وايي، په ټوله نړۍ کې په لکونو هغه انسانان چې د خوب گولۍ استعمالوي، د سرطان او تومور په څېر پر وژونکو ناروغيو اخته کيږي . د دې څېړنې پر بنسټ چې د انگلستان، فنلينډ او ناروې روغتيايي کارپوهانو په وسيله تر سره شوې، د خوب گولۍ د انسان پر روغتيا منفي اثر کوي او په بدن کې د مختلفو ناروغيو ميکروبونه ژوندي کوي. څېړنې ثابته کړې، د خوب گولۍ په بدن کې د سرطان توليدوونکي حجرات خپروي. د روغتيايي څېړونکو په خبره، د ۳۰۰۰۰ خوب گولۍ استعمالوونکو کسانو له څېړلو وروسته معلومه شوه چې د خوب گولۍ انسان د خولې، پوزې، ساه اخيستو نل او سږو پر سرطان اخته کوي. د څېړونکو په خبره، هغه کسان چې په زياته اندازه او د اوږدې مودې لپاره د خوب گولۍ استعمالوي، د هغوی د بدن دفاعي سيستم کمزوری کيږي او ډېر ژر پر مختلفو ناروغيو اخته کيږي. هغه کسان چې په دوامداره توگه په اونۍ کې دوه ځلې د خوب گولۍ استعمالوي، په هغوی کې پر سرطان د اخته کيدو خطر نسبت عامو خلکو ته ۲.۵ سلنه زياته وي.

ماسټر ډېبټ کارت
د عزيزي بانک ماسټر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتياوو او شرايطو سره سم ډيزاين شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پيسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 ميليون ډېرو سوداگريزو مرکزونو/پلورنځيونو کې د منل کېدو وړتيا لري.
• د دې لپاره چې ژر پيسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشينونو گټه اخيستلی شئ.
www.azizibank.af 1515
عزيزي بانک
Azizi Bank

